# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد		بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم		از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com		afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|



لیکوال او شناند: نظرمحمد مطمئن

۱۰ نومبر ۲۰۱۵

## کابل بانک کې ناخبره طالب بریدګر

ځیني خلک وایي چې الله جل جلاله دي سړی د حکومت له توره او تعقیب څخه ساتي که یو ځل یې درپام شول او د  حکومت توري شوي بیا بښه ورځ نه لري.

په تیرو ۱۴ کلونو کې  ځینو خلکو په پټو سترګو کړني د حکومت په نوم وکړي، چاپه کي شخصي دښمنۍ وپاللي، چاپه کې د پیسو په مقابل کې د پردیو له پاره جاسوسي وکړه او چا په کې د سوداګرو څخه د پیسو ترلاسه کولو له پاره د حکومت له نوم څخه سوء استفاده وکړه.

ځیني ناخبره او بې ګناه افغانان د ګوانتانامو  او بګرام زندانو ته یوړل شول، کلونه وروسته معلومه شوه چې د شخصي تربګنۍ او یا هم بهرنیانو ته د ژباړونکي له پیښتو سره نابلدې له امله هغه خوار افغان تر ګوانتانامو او بګرام زندانو پورې رسیدلي وو، په لومړیو وختونو کې د بهرنیانو سره ډیرې ژباړونکي دري ژبي وو.

د اپریل میاشتې ۱۴مه ۲۰۱۵ زکال و، زه او یو بل ملګری یوځای د کابل ښار په څلورمه کارته کې د کابل بانک یوې نمایندګۍ ته ورغلو، زما ملګري ته څو ځله نورو ملګرو ویلي چې لږ په جامه کې بدلون راولي، هغه تراوسه هم له ستونزو سره سره د ملګرو داخبره نه ده منلې چې خپل سپین پاچ او یا غټه توره لنګۍ له سره لیرې کړي او پر ځای یې پکول او یا همدلته سپینه مروجه خولۍ وکاروي.

داوخت داسي ورځې دي چې د طالبانو بریدونه کابل ښار کې زیات شوي، طالبانو ډلیز بریدونه په حکومتي ځایونو کول، داچې د نوي کابل بانک ځیني څانګې او په مجموع کې اوس مهال ټولې څانګې د افغان حکومت د کارکوونکو معاشونه ورکوي، له همدې امله څوځله د کابل بانک نمایندګۍ په ولایتونو کې د طالبانو له خوا په نښه شوي.

بانک د ودانۍ په دربم پوړ کې دی، لومړی چې دروازي ته ننوتلو هلته امنیتي کسان ټوپک په لاس ویریدلي ولاړ وو، دوېم پوړ کې د خاورو ډکې بوجۍ ایښي وې او وسله په لاس امنیتي کسانو د ټوپکو مشوکي ورڅخه را ایستلي وي، همدلته یې تلاشي هم وکړه، دربم پوړ کې هم امنیتي کسان د بانک دروازې مخکې ولاړ و، تلاشي یې کوله، او د  دربم او څلورم منزل په نیمایي کې هم امنیتي کسان د خاورو څخه له ډکو بوجیو شاته ناست وو، د ټوپکو شپیلۍ یې همدې د تلاشۍ ځای ته برابرې کړي وې.

رښتیا هم په دې ورځو کې کابل ښاریان زیات ویریدل، د طالبانو حملې زیاتې شوې وې، د کابل بانک نږدې دهرې نمایندګۍ همدا حالت وو.
د بانک مدیر ته دوه کسان ورغلل، هلته د هغه په ځانګړې دفتر کې ورسره کیناستل، مدیر یې د پیسو د وېشلو غرفې څخه یو تن کارکوونکی (صراف) خپل دفتر ته وروغوښت، هغه ته یې د یادوو دوو کسانو سپارښ وکړ چې ژر پیسې ورته ورکړي، په کابل بانک کې ډیر وخت ځکه زیاته ګڼه ګونه وي چې د عامو خلکو سربیره دولتي مأمورین له همدې بانک څخه معاشونه ترلاسه کوي، د امنیتي ادارو کسان هم همدې بانکونو ته د معاش اخستلو له پاره ځي، نو که سړی په کې واسطه ولري ښه کار کوي، له انتظار څخه بچ کیږي.
مدیرډیر ژر د یادو دوو کسانو کار ورته خلاص کړ، پرته له نوبت څخه هر څه یې ورته تیار کړل، بواځې د پیسو اخستلو تر غرفې همدې د مدیر میلمنو زحمت وکړ، او سم له واره یې خپلې پیسې تر لاسه کړې.
زه او ملګری ولاړ وو، خپل نوبت ته مو انتظار کاوو، زما د بانک د دروازې په پولیسو کې ځکه فکر کوو، چې کله موږ بانک ته ننوتلو ټولو پولیسو په ځیر ځیر کتل، او بیا یې هم زما ملګری تر څار لاندې نیولی وو، دغه ځوان چې جګه ونه لري، غټې څنې یې پرې اینښې دي، لویه سپینه لنګوټه یې پر سر وي، غټ کندهاري کالي چې ډیر کله سپین رنګه وي پر تن کوي، څادر یې پر خان تاو کړی وي، کټ مټ لکه د طالبانو د وخت د هغوی قومندان چې وي، مګر هغه انجنیر دی، په دعوت جهاد پوهنتون کې هم په همدې جامه کې هغه اوسیدلی وو، بواځې داچې هغه وخت کې یې پکول په سر کاوو، د طالبانو له راتګ سره بیا هغه لنګوټه پر سر کوله، او له کورنیو او بهرنیو مؤسیساتو سره په تیرو ۱۴ کلونو کې د کار پر مهال یې هم همدا جامه کارولې ده.
پولیس وارخطا وارخطا ایسته دورې کیدل، زه شکمن شوم، ملګري ته مې وویل چې ممکن پولیس پر تا شکمن شوې وي، هغه ویل چې بریدګر خو بانک ته په دغسې جامه کې نه راځي، ورته مې وویل چې دوی خو روزل شوې نه دی، بس غواړي چې یو څه وکړي، بیا چې ستا پوښتنه کیږي چې انجنیر دی، کابل کې یې کور دی، همدلته اوسیږي دا کار به میاشتې وخت ونیسي، غوښتل مې چې د پولیسو خواته ورشم، خو دغه حالت بانک ته راغلي نور خلک او په ځانګړې ډول میرمنې هم وارخطا کړې، ځینې میرمنې له پیسو اخستلو پرته له بانک څخه ووتلې.
د پولیسو یو تن د بانک مدیر ته ورغی، هغه ته په غوږ کې وپسنیدی، خبرې یې ورته وکړې، زه نور هم شکمن شوم، زما ملګري ته مې وویل چې خبره ستا اړوند روانه ده، هغه خندل، ویل یې مه یې ښوروه چې دوی دومره ویره لري، او له هرچا څخه ویریږي، دا خو دوی له پاره ښه نه ده، ځکه دوه ځله یې موږ تلاشي کړو، نه راسره کومه وسله شته او نه هم په پټه بانک ته ننوتلي یو.
د بانک مدیر په منډه له خپل دفتر څخه ووت، د باندې ولاړ، لږ وروسته د پولیسو له څو تنو سره د بانک مرستیال مدیر د بانک عمومي سالون ته را دننه شو، وارخطا وارخطا یې کتل، پولیسو په اشاره کې هغه ته شکمن بریدګر انجنیر ور وښود، کله چې هغه دغه د سپینې پګړۍ ځوان ولید، ډیر ژر بیرته د بانک له عمومي سالون څخه ووت، له پولیسو سره یې خبرې وکړې، لږ وروسته هغه او د بانک مدیر بیرته خپلو کارځایونو ته راغلل، کیناستل، کار نورمال روان وو، هر څه مې څارل، ځکه په همدې ورځ د بانک سخت امنیتي تدابیر هسې هم ویرونکې وو، مرستیال مدیر ته د لاسلیک اخستلو له پاره ورغلم، هغه بل تن ته کیسه کوله، چې د خدای فضل وشو، که نن زه نه وای لویه رسوایي به په بانک کې جوړه شوې وای، هغه ویل چې پولیسو غوښتل د بانک منځ کې دغه د سپینې لنګوټې لرونکی کس ولچک او زولانه کړي او هغه د بریدګر په تور باندې ونیسي، د بانک مدیر

هم د همدې مشتري له قواري سره نابلده وو، خو داچي دغه ځوان ما ته څو ځله راغلی او له همدې بانک څخه يې مخکي هم پيسي اخستي دي، له همدې کبله وو چي ما هغه پېژاندی چي کله ناکله همدې بانک ته د پيسو اخستلو او يا پيسو ساتلو له پاره راځي.

پوليسو تابيا نيولي وه چي هغه خوار د بريدګر طالب په نوم ونيسي، مدير هوښياري وکړه، زما سره يې خبره شريکه کړه، زه پورته منزل ته تللی وم، که همدلته ناست وای، نو سمدستي به مي هغوی پوه کړی وای چي دا زموږ مشتري دی.

هغه ډېره خفه ښکاريدی، ماته يې وويل چي زه خو دا ځوان پېژنم، چي کله همدلته بانک ته راشي هغه ډېر ښه اخلاق کوي ، اوس به يې همدا خوار د بريدګر طالب په نوم نيولی وای، او بيا چي داخبره سپينه کيدای ډېره اسانه به نه وای، بل داچي زموږ د بانک نوم به هم بدنام شوی وای، او ولي به زموږ امنيتي کسانو بي ګناه تن د نورو خلکو په مخ کې نيوی، هغوی به ويره لرله چي بريدګر ځان وانه لوزوي نو په همدې يې هم فکر کاوو چي څه ډول عمليات پر هغه ځوان وکړي.

همدا انجنير وايي چي د کوم کار له پاره چيرته ځم، له سخت تکليف سره مخ کيږي، هغه وايي چي يوځل د کوم وزرات مرسيتال ته له نورو انجنيرانو سره يوځای دهغه دفتر ته ننوتم، هغه له وارخطايي سره سره راته وويل چي ته د لومړی کرښي قومندان يي که انجنير؟ په دغسي جامه کي ستا راتګ مناسب نه دی.

که د سړي خپله اصلي افغاني جامه پر تن وي، نه يواځي په کابل ښار کي بلکي په شمالي ولايتونو کي هم له ستونزو سره مخ وي، زما يو بل ملګری چي لويه ږيره يې درلودله، يوځل جوزجان ته ولاړی، له هغې خوا څخه چي راتلی، د ږيرې وينښتان يې کم کړي وو، ډير حيران شوم، هغه راته وويل چي له دي لوري د تلاشيو پر مهال يې ډير زيات په تکليف کړم، سخته تلاشي او دا به يې ويل چي "طالب است"، نو ځکه مي له هغې خوا څخه د ږيرې وينښتان لنډ کړل.

اوس خو داهم پکي شته چي لنګوټه لرونکی سړی که کوم دولتي اداري ته ننوځي نو د هغه پګړی له سره ليری کيږي او کله ناکله يې امنيتي کسان د خلاصيدو غوښتنه هم کوي.